دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ
۳۰ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم-۲۸

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**اووه پنځوسمه مسئله**

(دوهمه برخه)

اوشعبی وایی: دبدعت اهل ته څکه هوادار(اهل هوا) ویل کیږی چی دوی به دوزخ ته ځی، څکه چی دوی په خدای عزّوجلّ اودهغی په رسول علیه الصلوة ولسلام اودهغی په کتاب باندی دروغجن شوی دی.

اواپاس ابن سلمه روایت کوی له خپل پلارڅخه: چی رسول علیه لسلام وویل: هرڅوک چی زما دسنتواوجماعت سره خلاف کوی داسی دی لکه چی دمسلمانی له هنر او مسلمانانو څخه جلا شوی وی. اوداسی ده چی له مسلمانی وتلی وی اودجاهلانو پشان مړی وی.

اوعمر ابن عبدالعزیز ویلی: هرڅوک چی مو ولید چی له سنت اوجماعت له اهل څخه یی مخ اړولی ، پوه شی چی هغه دبدعت اوضلالت بنسټ کښیښوداو دبدعت اوهوا تخم یی وکاره، دهغی دا ودانه ړنګه کړی اوتخم یی راوباسی.

اوعبدالله ابن عمررضی الله عنهما روایت کوی چی روسل علیه السلام وویل: هرڅوک چی بدعت خاوند خوارکړی(ذلیل یی کړی) حق تعالی به فرمان ورکړی چی په جنت کی دده په نام سل درجی پورته کړی، اوهرڅوک چی بدعت کارته سلام واچوی اویا ورته تبسم وکړی، په ریښتیاسره یی استخفاف کړی په هغه څه کی چی خدای عزّوجلّ حضرت محمّد صلی الله علیه وسلم ته راستولی دی.

اومعاذ بن جبل رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی دبدعت کارڅنګ ته ورشی په دی نیت چی هغه ته درناوی وکړی اولوی یی کړی، هغه دمسلمانی ورانولو ته مرسته کړی ده.

اوحسن بصری رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: له مبتدع سره مه کښینی، څکه چی هغه ستاسو په زړه کی هغه څه چی شیطان دده په زړه کی اچولی ، اچوی.

یوسړی دسعید ابن جبیر خواته راغی اودآیت پوښتنه یی تری وکړه، هغه ځواب ورنکړ. هغه کس دمبتدع خواته ورغی اودهغی خبری یی په شوق اورغبت سره واوریدلی، په ریښتیا سره هغه دخدای عزّوجلّ له عصمت څخه راووت.

اوروایت کوی سفیان عیینه: چی هرڅوک چی دمبتدع په جنازه ودریږی، دخدای عزّوجلّ له خشم اوقهرسره به مخ وی ترڅو بیرته راوګرځی.

اوعبدالله ابن المبارک وایی: هرڅوک چی دمبتدع جنازی ته حاضرشی، په رینښتیا سره چی دمسلمانانو مسلمانی یی ورانه کړی ده.

فضیل بن عیاض وایی: داهل بدعت له ناستی څخه پرهیزوکړی. ځکه چی هره ګړی پردوی اوهمناستو دخدای لعنت راتوئیږی.ځکه چی ځان یی ددوی په شان ګرځولیدی. ځکه چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وویل: مَن تَشَبَّهُ بِقَومٍ فَهُوَمِنهُم.

اوعبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل، حق تعالی ویلی: خیراوشر ما پیداکړی، اوخوشا دهغه چا په حال چی په لاس مویی خیرورکړی دی. او افسوس دهغه په حال چی په لاس یی شرورکړشوی دی.

رسول علیه السلام وویل: هر امت لره مغان شته، اوزما دامت مغان هغه کسان دی چی وایی: دنیکی اوبدی تقدیر دخدای له لوری ندی. چی ناروغه شی ددو پوښتنه مه کوی اوچی مړه شی په جنازه یی مه دریږی.

عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وایی چی رسول علیه السلام وویل: چی کله دقیامت ورځ شی، حق تعالی به فرمان ورکړی فرشتو لره، ترڅو نداء(ناره) کړی اووایی: چیرته دی زما دښمنان قدریان؟ پس په پښو دریږی اومخونه تور اوژیړ وی، اوسترګی یی تکی شنی راوتلی، اواوبه یی له خولی جاری دی. اوهرڅوک چی دوی په دی ډول وګوری نو کرکه یی تری راځی. پس دوی وایی: والله! ای خدایه! چی مونږ پرته له تا دبل پرستش ونکړی اونه موهم لمرسپوږمی اوبت ته سجده وکړه؟ پس عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما دا آیت ولوست: یَومَ یَبعَثُهُم جَمِیعاً فَیَحلِفُونَ لَهُ کَما یَحلِفُونَ لَکُم. اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وویل چی دوی قدریان دی.

اورافع ابن خدیج وایی چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: په پای کی به زما په امت کی داسی قوم پیداشی چی په خدایَ عزّوجلّ باندی اودهغی په کتاب باندی کافرکیږی، ولی دوی نه پوهیږی. اورافع وویل: سوال مو وکړ: یارسول الله! په څه باندی کافرکیږی؟ وویل: دوی وایی خیردخدای له لوری دی اوشردشیطان ابلیس له لوری. پس په دی وینا سره قرآن لولی او په خدای عزّوجلّ اوقرآن باندی کافرکیږی وروسته له ایمان اومعرفت څخه. ځکه چی زما امت له دوی څخه هماغه ګوری کوم چی له دښمنانو څخه. پس حق تعالی به دوی مسخ کړی اودبیزو اوخوګ په څیربه یی وګرځوی اوډیرکم ددوی څخه خلاصون مومی.

اومومنانو لره به هغه ورځ خوښی لړ اوغم ډیروی. پس رسول علیه الصلوة والسلام وژړل داسی چی ټول یاران ورسره په ژړاشول. پس وویل: یا رسول الله ! داژړا دڅه لپاره؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: زما دامت لپاره. ځکه چی بنی اسرائیل چی هلاک شول په دی سبب و چی دوی دنیکی اوبدی تقدیر دخدای عزّوجلّ په لاس کی نه بلله. پس یارانو وویل: یا رسول الله! ایمان څه دی؟ وویل: ایمان دادی چی په خدای عزّوجلّ ایمان راوړی چی هغه یو دی، اوپه جنت اودوزخ ایمان ولری اوپوه وی چی خدای تعالی بهشت پیداکړی مخکی له دی چی خلق پیداکړی، اودوزخ یی پیداکړ. اووروسته دبهشت اودوزخ له پیداینت څخه یی مخلوق پیداکړ ددوزخ اوبهشت لپاره. اوهغه چی یی وغوښتل دبهشت اهل وګرځول اوهغه چی یی وغوښتل ددوزخ اهل ورګرځول. او دا دواړه دعدل اوفضل له مخی و.

اوسعید بن جبیر وایی دخدای عزّوجلّ په قول کی: وَلَال تَلَقُو بِاَیدِیکُم اِلَی التَهلکةّ. وویل: دبدعت اوهوا له اهل سره مه کښینی، چی په معصیت کی لویږی اوهلاک کیږی.

اوعبدالله ابن عمررضی الله عنهما وایی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی له مبتدع څخه مخ واړوی، خدای عزّوجلّ به هغه له فزع اکبرڅخه وژغوری. اوهرڅوک چی دبدعت والا باندی چیغه ووهی اوهغه استخفاب کړی، حقتعالی به دهغی سل درجی په بهشت کی لوړی کړی.

اوله حسن بصری رضی الله عنه څخه یی په مبتدع پسی دلمونځ کولو په هکله وپوښت. وویل: هرڅوک چی په مبتدع پسی لمونځ وکړی هغه به دده پشان وی.

او عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وایی چی رسول علیه السلام وویل: چی وروسته له مابه داسی خلک پیداشی چی زما سنت ضایع کوی، اوپه بدعت سره کارکوی اولمونځونه له وخت څخه په تأخیراداءکوی.

اواسمعیل ابن سعد الساعدین روایت کوی، چی رسول علیه السلام وویل: چی مسلمانی په لومړیو کی غریبه وه اوپه پای کی به هم غریبه شی، داسی لکه په پیل کی. پس وویل: خنک دی وی غریبانولره. وویل: یارسول الله ! غریب څوک دی؟ وویل: هغه کسان چی په خپل دین اومذهب کلک ولاړ وی داسی چی نور به تباه شی.

اوحسن بصری رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: طاعت اونیک کردارهغه دی چی په سنتو ولاړوی. اولږطاعت چی په سنتو ولاړوی له ډیرطاعت نه چی په بدعت ولاړ وی غوره دی. اوهرڅوک چی زما په سنتوکاروکړی هغه زما دی. اوهرڅوک چی زما له سنتو مخ واړوی، هغه زماندی.

اوابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی خلک دهدایت لوری ته رابولی، اوهغوی یی اجابت کوی، دوی لره همدومره مزد اوپاداش شته لکه ددوی، پرته له دی چی له مزد څخه کم شی. اوهرڅوک چی خلک دضلالت خواته رابولی، اوهغهاجابت کوی، دوی لره گناه هم همدومره.پرته له دی چی گناهونو څخه یی کم شی. پس رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست: لِیَحمِلوُا اَوزارَهُم کَامِلَةٌ یَومَ القِیَامَة وَمِن اوزارِالَّذینَ یُضِلونَهُم بغیرِ عِلمٍ، اَلَا سَاءَ مَایَزِرونَ.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی، چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: هرڅوک چی زما سنت ژوندی کړی، داسی لکه چی زه په هغی یم، هغه به زما داسی یاروی په جنت کی لکه دا دوه گوتی.

اوهشام ابن حسان روایت کوی چی حسن بصری رضی الله عنه وویل: چی یوجماعت خلک راټول شول او ویل، چی زمونږ څخه باید یوکس دمهترعالم علیه السلام عیال خواته لاړشی اودرسول الله صلی الله علیه وسلم له خوی څخه وپوښتی. درسول الله علیه السلام عیال وویل: چی رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ کاوه اواوکله به ویده کیده اوروژه یی نیوله اوبیایی افطارکوله اوله عیال سره مزاح(ټوکی) اولوبی کولی اومعاشرت یی کاوه.

یوه سړی له رسول الله علیه السلام څخه وپوښتل: چی که څوک روژه ونیسی اوهغه ماته نکړی اوټوله شپه هم لمونځ وکړی اومخ له عیاله وگرځوی، څرنگه به وی؟ رسول علیه السلام وویل: زه کله لمونځ کوم اوهم ویده کیږم اوروژه نیسم اوماته وم یی اوله عیال سره صحبت کوم. دادی زما سنت. هرڅوک چی زما له سنتو مخ واړوی هغه زما ندی.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: دری ډلی به د دجال له فتنی اوددنیا اوآخرت له فتنی په امان کی وی.

لومړی: هغه کسان چی زما یاران پری گران وی. دوهم : هغه دله چی دنیکی اوبدی تقدیر له الله جلّ واعلا څخه گڼی. دریم : هغه کسان چی زما په سنتو منگول ټینگوی.

ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت کوی، چی رسول لله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:هرڅوک چی حلال خوری اوکاردسنتو مطابق کوی، اوله خیانت اوظلم څخه لیری وی په ریښتیاسره به جنت ځی.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی ، چی رسول علیه السلام وفرمایل: دکارپه پای په آخرالزمان کی به داسی قوم پیداشی چی مخونه به یی دآدمیان په څیروی ولی زړونه به یی دشیطان په شان تک تور اودلیوانو په شان به ځیرونکی وی اوپه زړونو کی به یی هیڅ رحمت نه وی.اودوی به وینی تویوونکی وی اوکه یی په منځ کی اوسی نو آزارکوی به دی.اوکه یی له منځه لاړ شی غیبت به دی کوی. اوکه دوی امین وګرځوی درسره به خیانت کوی. اوکه دوی امربالمعروف اونهی عن المنکرته رابولی درسره به مخالفت کوی. اومومن ددوی په منځ کمزوری اوفاسق ځواکمن وی.اوسنت یی ترمنځ بدعت وی اوبدعت سنت وی. اوپه همدی وخت کی خدای تعالی پری بدان مسلط کوی، کله چی دعا وکړی نو قبلیږی هیڅ کله.

اوابوهریره رضی الله عنه روایت کوی، چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی حج وکړی اوعمره ترسره کړی،اوپه بیت المقدس کی لمونځ وکړی اوجهاد وکړی په ریښتیا سره یی زما سنت پرځای کړی.

اوعبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وویل: په هرچاچی قرآن ګران وی په حقیقت کی پیغمبر علیه الصلوة والسلام پری ګران دی، اوهرڅوک چی دا دواړه پیداکړی داسی ده چی ځان یی دقران په تلاوت اودرسول دسنتو په متابعت کی نزارکړ(ډنګر).اوهرڅوک چی چاغ وی نودقرآن معنی اودپیغمبر سنت نشی موندلای.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه وویل: چی خدای عزّوجلّ لره شرم اوکرم دادی چی بوډا نه په عذاب کوی چی سنتی اوجماعتی وی. اوهرڅه چی هغه سنتی اوجماعتی بوډا له خدای عزّوجلّ څخه وغواړی هغه رواکوی.

اورسول علیه السلام وویل: پنځه شیان دمرسلو پیغمبرانو سنت دی:

لومړی: شرم لرل. دوهم: دوست یاری کول اوبردباری کول. دریم: تواضع کول. څلورم: مسواک وهل. پنځم: بنه بوی وهل.

اوسعید ابن جبیر دخدای عزّوجلّ په قول کی داسی وویل: وَاِنِّی لَغفَارٌ لِّمن تَابَ وَآمَنّ وَعَمَلَ صَالِحاً ثُمَّ اَهتَدی.وویل: هغه کس چی زما دسنتو ملازم وی.

اوعبدالله ابن عمررضی الله عنهما روایت کوی ،چی رسول علیه السلام وویل: په آخرزمان کی به داسی قوم پیداشی، چی په ځوانی کی به علم زده کوی، یعنی دهوا اوبدعت علم. اوهمت به یی خیټه وی اوفرج اولباس.اوهیڅ شی به یی دخدای لپاره نه وی. حق تعالی به دوی ته نظر نه کوی مګر دلعنت. اوکه سلطان ورته وګوری، ددوی طاعت به یی خوښ وی. پس هرڅوک چی په هغی زمانه کی ژوند کوی اوزما په سنتو لاس ټینګ کړی، دقیامت په ورځ به زما سره وی.

اوحسن بصری رحمه الله روایت کوی، چی رسول علیه السلام وویل: په خلکو به داسی زمانه راشی چی دین به ولری، اوخپل دین به نشی کولای په سلامته سره وساتی، مګر په تیښته له دی غره تربله ، له دی ښاره تربله لکه دګیدړی په شان.

پس یارانو وویل: داچی وموویل دابه څه وخت وی؟ وویل: په هغه زمانه کی چی بی واده توب(بی نکاح) به روا وی. وویل: څرنګه روا وی؟ وویل: دابه هغه زمان وی چی عیش به تنګ شی اوقوت به لاس ته نه راځی مګر په معصیت سره.

اوابوهریره رضی الله عنه روایت کوی، چی رسول علیه السلام وویل: لس شیان سنت دی: پنځه په سرکی اوپنځه په تن کی.اما هغه چی په سرکی دی: په خوله اوپه پوزه اوبه کول دی. دریم مسواک وهل، څلورم بریتونه اصلاح کول اوپنځم دسروېښتان سمول دی.

اماهغه چی په تن کی دی: اول: نوکونه اخیستل. دوهم: ختنه کول. دریم: دتخرگ (زیربغل) ویښتان اخیستل،څلورم دنامه لاندی ویښتان اخیستل.اوپنځم استنجاءکول دی.

اورسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی:هره ورځ له آسمانه پنځه فرشتی راکوزیږی: یوه دکعبی شریفی په بام، دوهم: په مدینه منوره کی. دریم: په بیت المقدس کی. څلورم: په بازار اوښارونوکی .پنځم: په قبرونوکی.

هغه فرشته چی دکعبی شریفی په بام راکوزیږی نداءکوی: اَلّآ مَن تَرَکَ الفرایضُ اللهِ فَقَد خَرَجَ مِن ذِمَنَّهِ. وایی: پوه شی اوآگاه اوسی، چی هرڅوک چی دخدای عزّوجلّ فرایض پریږدی هغه به دخدای تعالی عزّوجلّ له زنهار(پری) څخه بهرشی.

اوهغه چی په مدینه منوره کی راکوزیږی وایی: پوه شی اوآگاه اوسی، چی دهرچا چی کسب حرام وی، خدای عزّوجلّ به دهغی هیڅ کردار قبول نکړی اوهغه چی په هدیروکی راکوزیږی وایی: ای دقبرونو اهله! څه آرزو لری اوله کوم څه نه پښیمانی کوی؟ له قبرونو به آوازراپورته شی چی پښیمانی موداده چی عمرونه مو بیهوده بربادکړل اوپه معصیتونوکی مو روزگارتیرکړ. اوس موآرزو اوهیله داده، چی اهل مساجد قرآن لولی اولمونځونه کوی اوزکوة ورکوی اوصدقه اوخیرات کوی اومونږ یی نشو کولای زمونږ آرزو له دینا څخه همداده. اوهغه چی په ښارونو کی نداکوی او وایی: ای اهل ښارونو اوبازارونو پوه شی اوآگاه اوسی، چی خدای عزّوجلّ لره رحمت شته اوعذاب شته، دده رحمت ته امیدواره اوسی اوله عذاب څخه یی وویریږی.! بیا وایی: که دهغوسپین ږیرو(شب زنده دارو)حرمت نه وی، اوکه دچارپایانو خاطرنه وی، په تاسو به داسی عذاب رانازل شی ، چی ټول به په هغه عذاب کی هلاک شی.

همدومره بس ده هوښیارانو لره.